مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۳/۰۸/۲۲

# خوږمن وطنه

عمر برباد په اندیښنو شـــو
زړګی سوری ستا له دردو شو

له غمه هــومره په سلګو شوم
چي می صورت د لــیونو شو

طالـــع هم نه رســی فریاد ته
د اقبال لمـــر په ډوبـیدو شو

وطنه! ستـــا په انتــظار کي
د صبر جـــام په توئـــیدو شو

د ځوانیـــمرګ هجر له غمه
تناب د عمر په شـــلیدوشو

سید عبید الله نادر
کال ۱۳۷۳پیښاور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ